زړه وړونکی جانا ن ته ډالي

-------------------------

## سوله اوجنګ

کینبی نه نا ستي هیڅکله په مینه مي په ځنګ
پوه نشم تر اخره ستا په سوله او په جنګ
په نا ز اوکرشمو سره دی زړه را نه ویوړ
خلوت کي دي ونه غوښتلم پا س په پا لنګ
په للموشونډومی دي تازه شونډی کینبینښود
نیشه دی کړم ادا سره له خپل حا له بی بنګ
په سوله او په جنګ کله پخلا کله جنګي
د سپین مخ په شغلودی کړم بسمل لکه پتنګ

***جرمنی 2019-12-07

## تما س

رغبت می شی دوچنده چي می لاس شي ستا په لاس
نخری دی مي بی توله پاروی د زړه احسا س
د مینی پیما نی مي په لیدو دی لب ریز کیږی
هوس مي د بوسي شي ستا د سرو شونډو د پا س
چي لیری کړی پلو له مخ هوس می توفا نی شي
د ذهن او د عقل می بی توله شی بیلانس
دا ستا دا کا نی زړه پر«مل» هیڅکله نرم نشو
له یا ده دی ا یستلی یم چي نه نیسي تما س

***جرمنی 2019-12-07

## نه ګرځیدم

زه که د خلکو له خبرو ویریدم درپسی نه ګرځید م
که پرتا نه اوم مین شوی بیلتون کی نه سوځید م
په مینه هیڅکله بند یز څوک لګولي نشي
ددی اسرار په مفهوم مخکی زه هیڅ نه پوهید م
مینه د اغزو پرسر پیچلی د زغم مزل دي
که په د یدار دي رسید م هیڅکله نه ځورید م
له اورین مینی دي اوس «مل» مخ ګرځولي نشي
که مي هم مخکي ویی لید لي هیڅ له تا نه تیرید م

*** جرمنی 2019-12-07

## د مینی ګرمي

پستي خبري ستا می په زړه مینی دی کرلي
په زړه می ستا د میني خښتی خونه دی جوړکړی
د میني مزی تا سره مي نه دي د شلید لو
پرما چي د خپل میني پرزوینه دي کله کړي
هرکله چي دی وینم له خوښی اوښکی می څا څي
ګرمی ستا د مینی می په وینه لمبید لي
د «مل» د ژوند بقا ستا په مینه تړل شوي
دیر تینګ پخپل مکا ن لکه اونه درید لي

*** جرمنی 2019-12-06